**بسم الله الرحمن الرحیم**

# په ارمنستان کې سیاسي بدلونونه



**(ژباړه)**

**پوښتنه:**

د ارمنستان پارلمان د ۲۰۱۸م د می په ۸مه دې هوکړې ته ورسېد چې نیکول باچینیان د لومړي وزیر په توګه وټاکي او په دې کار سره یې په روسیې پورې د تړلي دولت پر وړاندې په ارمنستان کې رامنځته شوي لاریونونه پای ته ورسول چې دریو اونیو څخه یې ډېر دوام درلود. له شک پرته د ارمنستان په سیاست کې د لومړي وزیر په توګه د دولت د مخکښ مخالف، باچینیان ټاکل لوی بدلون کڼل کېږي. پوښتنه دا ده چې د دغه سیاسي بدلون اندازه په کومه کچه ده او ایا دا په دې معنا ده چې په ارمنستان کې به د روسیې نفوذ پای ته ورسېږي؟ او ایا غرب (اروپا او مریکا) په دغه بدلون کې څه رول لري او که نه؟

**ځواب:**

د موضوع د لا روښانتیا لپاره پر لاندې مسایلو رڼا اچوو:

۱ـ ارمنستان یو کوچنی هېواد دی چې ۴ میلیونه وګړي لري او په ۱۹۹۱م کال کې د شوروي اتحاد د ړنګېدو پر مهال خپلواک شو. جمهوري غوښتونکی حزب، چې وروستیو لاریونونو یې مشر له واکه ګوښه کړ، له ۱۹۹۹م څخه تر اوسه دغه هېواد رهبري کوي. د جمهوري غوښتونکي حزب رییس سیرج سیرکسیان له ۲۰۰۸م څخه راپه دې خوا د دغه دولت د پوره دوو دورو ریاست وکړ او د ده د واک ځینې ځانګړتیاوې دا دي چې په پارلمان

کې یې د مخالفو حزبونو له شتون سره سره تر ډېره دیکتاتوري او په روسیې پورې تړلی حکومت وکړ. له هغه ځایه چې د دغه هېواد قانون یوه کس ته له دوو دورو څخه د زیات ریاست کولو اجازه نه ورکوي، ده د خپل واک د دوام لپاره په اساسي قانون کې بدلون راوست او د ولسمشرۍ مقام یې پر سمبولیک مقام بدل کړ او عملي واک یې لومړي وزیر ته ولېږداوه. د سیرکسیان د ریاست د دویمې دورې له پای ته رسېدو سره سم یې د لومړي وزیر پوستې پر غاړه واخیست.

«د ارمنستان پارلمان، پخوانی ولسمشر سیرج سکیسیان د دغه هېواد د لومړي وزیر په توګه وټاکه. دغه اقدام به د دې لامل شي چې پر حکومت به د ده واک همداسې ټینګ پاتې شي. دا په داسې حال کې ده چې د یریفان په ښار کې زرګونو کسانو د حکومت په راس کې د هغه د شاتون پر ضد پراخ لاریونونه وکړل. پالمان ٦٣ کلن سرکیسیان په ٧٧ موافقو او ١٧ مخالفو رایو سره د هېواد د لومړي وزیر په توګه وټاکه. دا په داسې حال کې ده چې د لومړي وزیر په توګه د ده له ټاکلو څخه یوه اونۍ وړاندې د ده د ولسمشرۍ دویم پړاو پای ته ورسېد.»

(سرچینه: النهار ورځپاڼه ٢٠١٨م د اپریل ١٧مه)

له ټکل کېدو سره سم یې پر وړاندې د خلکو لاریونونو زور واخیست، په ځانګړې توګه دې ته په پام سره چې د سرکیسیان د واک پر مهال ارمنیان له سختو اقتصادي فشارونو سره لاس او ګریوان وو او ډېر لږ کاري فرصتونه یې درلودل. د دغه حالت دلیل په لومړي قدم کې حکومتي فساد او په دویم قدم کې د خامو نفتو او ګازو د طبیعي سرچینو نشتون دی. دغه اپوزیسیون حزب «یلک» و، چې دغه چارې یې په ډاګه کړې او د ارمنستان د لاریونونو شغله یې تازه کړه، هغه لاریونونه چې په ډېرې چټکۍ سره یې د خلکو نوې مشري څرګنده کړه، چې د سیال نیکول باشینیان په شخصیت کې یې تمثیل کړه.

٢ـ په ارمنستان کې د لاریونونو تر ټولو مهم دلیل د سرکیسیان د حکومت پر مهال اقتصادي ناورین و. په ارمنستان کې اداري او مالي فساد د پخواني شوروي اتحاد د نورو غړو هېوادونو په څېر وینې زبېښي او په حکومتي کارځایونو کې تر دې کچې رشوت دی چې خلک ترې د نفس تنګۍ احساس کوي. خلک له واکمنۍ څخه د معیشتي دلایلو پر اساس ناخوښه وو او د سرکیسیان د واکمنۍ په دویم پړاو کې یې د دغه حالت پای ته رسېدو ورځې شمېرلې، ناڅاپه یې پام شو چې هغه د لومړي وزیر په توګه یو ځل بیا صحنې ته داخل شو او خپل واک ته یې دوام ورکړ. همدا و چې خلک یې د حکومت پر وړاندې راپورته شول او کار تردې کچې ورسېد چې دی استعفا کولو ته اړ شو او باشینیان چې له مخالف لوري څخه و د لومړي وزیر په توګه وټاکل شو. له هغه ځایه چې اقتصادي مسایل له زیات ارزښته برخمن دي او په ورته وخت کې په دیموکراسۍ پورې اړوند داخلي

مسایل هم مطرح دي، نو نوي لومړي وزیر باشینیان د خپل حکومت له جوړېدو څخه لږ وروسته د اړتیا له مخې د پارلماني ټاکنو په رامنځته کېدو ټینګار وکړ او ویې ویل: اړتیا ده چې په بېلابېلو برخو کې پراخ اصلاحات رامنځته شي. هغه وړاندې ژمنه کړې وه چې ارمنستان به په اساسي ډول د دیموکراسۍ، د قانون د واک د زیاتوالي، له حکومتي ګټو څخه د شخصي ګټو د بېلوالي او د پانګوالۍ فضا د ښه والي په لور بیایي. (سرچینه: د ارمن شبکه ۲۰۱۸م د اپریل ۱۴مه) په دې اساس ښکاري چې په ارمنستان کې وروستیو سیاسي بدلونونو په لومړي قدم کې داخلي لاملونه او دلایل درلودل.

۳ـ غبرګونونه:

الف) امریکا د لاریونونو پر مهال اعلان وکړ چې وضیعت له نژدې څاري او ښکاري چې په دغه وخت کې یې په دغه هېواد کې د خپل نفوذ د پراخوالي لپاره د ممکنو فرصتونو په لټه کې وه. کله چې باشینیان د لومړي وزیر په توګه وپېژندل شو، د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویاند هیذر نوایرت د سه شنبې ورځې په پای کې په بیانیه کې داسې وویل: «متحده ایالات نیکول باشینیان ته د ارمنستان د نوي لومړي وزیر په توګه د ده د ټاکل کېدو مبارکي وایي.» هغه زیاته کړه: «موږ د ارمنستان له نوي حکومت او خلکو سره د همکارۍ په توګه دګډ فعالیت هڅه کوو په ځانګړې توګه د دواړو هېوادونو لپاره په مهمو برخو یعنې د تجارتي زمینې د زیاتوالي، د دیموکراسۍ د واکمنېدو، د قانون د واکمنېدو او د سیمې او نړۍ د امنیت په راوستلو کې.» (سرچینه: د ارمنستان خبري سایټ ۲۰۱۸م د مۍ ۹مه)

ب) اروپا خپل موقف د ارمنستان له نوي لومړي وزیر سره د اروپایي اتحادیې د بهرنیو، سیاسي او امنیتي چارو د استازي فدریکا مادروني په ټلیفوني اړیکې سره پیل کړ. په هغې مطبوعاتي اعلامیه کې چې د اروپا له ادرس څخه خپره شوه مادروني له باشینیان څخه وغوښتل چې په یوه ممکنه لومړي فرصت کې له بروکسل څخه لیدنه وکړي. په دغې بیانیه کې ویل شوي دي: «د اروپایي اتحادیې لوی استازي فدریکا مادروني او د دغې اتحادیې د رییس مرستیال نن ورځ له غرمې وروسته له نیکول باشینیان سره د ټلیفوني اړیکې له مخې د ارمنستان د لومړي وزیر په توګه د هغه د ټاکل کېدو مبارکي ورکړه. دواړو لورو د اروپایي اتحادیې او ارمنستان تر منځ د ګډ فعالیت په ارزښت موافقه وکړه او مادروني له باشینیان سره د لیدنې غوښتنه وکړه او له هغه څخه یې په ممکن نژدې فرصت کې بروکسل ته د سفر کولو غوښتنه وکړه.» (سرچینه: ARMENPRESS ۲۰۱۸م د مې ۹مه)

ج) د روسيې غبرګون داسې و، چې د ۲۰۱۸م د مې په ۸مه د لومړي وزير په توګه د باشينيان له ټاکلو څخه لږ وروسته، د روسيې ولسمشر ولاديمير پوتين باشينيان ته د مبارکۍ د پيغام په لېږد سره هيله څرګنده کړه، چې د ده اقدامات د روسيې او ارمنستان تر منځ د ګډو اړيکو د ځواکمنېدو لامل شي او د خپلواکو هېوادونو د اړيکو په اډانه کې د دواړو هېوادونو تر منځ دوه اړخيزو همکاريو، د اوراسيا د اقتصادي اتحاديې او د ډله ييز امنيت د تړون سازمان ته پراخوالی ورکړي. باشينيان هم وړاندې ويلي وو، چې دی له روسيې سره د خپل هېواد د ستراتيژيکو او نظامي همکاريو په ګډون باوري و او دغه شراکت د ارمنستان د دولت د امنيت اساس ګڼي. هغه د ارمنستان د پارلمان په يوې ځانګړې ناسته کې وويل: «له روسيې سره ګډې ستراتيژيکې اړيکې به د ارمنستان له کاري لومړيتوبونو څخه وي.» هغه همداراز وويل: «ارمنستان به هېڅکله د اوراسيا د ډله ييز امنيت د تړون له سازمان او اقتصادي اتحاديې څخه، چې روسيه، قزاقستان، بلاروس، ارمنستان او قرغيزستان پکې شامل دي، ونه وځي.» (سرچينه: د نن ورځې د روسيې راپور ۲۰۱۸م د مۍ ۸مه)

باشينيان په ارمنستان کې د روسيې د اندېښنې د کمولو لپاره وويل: «هغه سياسي تګلاره چې په ارمنستان کې پيل شوې ده په هېڅ ډول شکلي او جوهري جيوپوليټيکي جوړښت نه لري. موږ په خپلو دغو حرکتونو کې په هېڅ ډول د متحده اياالتو او اروپايي اتحاديې د ګټو د ساتلو هڅه نه کوو، بلکې د ارمنستان او د هغه د خلکو د ګټو د ساتلو هڅه کوو. هغه زياته کړه: «زموږ لاريونونه هېڅکله د روسيې پر وړاندې نه و او د اوکراين د بدلونونو يوه ځانګړتيا هم نه لري.» (سرچينه: DARAJ د ۲۰۱۸م، د مې ۱)

۴ـ په دې اساس ښکاري چې روسيه تر اوسه په ارمنستان کې د خپل نفوذ د ساتلو فرصت لري او همدا دليل دی چې د روسيې ولسمشر له باشينيان څخه د دعوت غوښتنه وکړه، چې له ده سره په سوچې کې ليدنه وکړي. په لومړۍ ليدنه کې چې د دواړو له لوري وشوه د ارمنستان نوي لومړي وزير نيکول باشينيان په خپلو خبرو کې د روسيې ولسمشر ولاديميرپوتين ته وويل: دی علاقه‌من دی چې له روسيې سره د خپل هېواد اړيکې په نظامي برخه کې پراخې کړي او هېڅ ځوک د دغو دواړو هېوادونو تر منځ د ستراتيژيکو اړيکو په ارزښت کې شک نه لري. (سرچينه: د رويټرز راپور ۲۰۱۸، د مې ۱۴مه) باشينيان وويل: «زه باور لرم چې په ارمنستان کې حتا يو کس هم له روسيې سره د ارمنستان د اړيکو په ارزښت کې شک نه کوي او هېڅکله به شک هم ونه کړي. موږ قصد لرو چې په سياسي، اقتصادي او سوداګريزه برخه کې د دغو اړيکو نوی پړاو پيل کړو. د ارمنستان نوي مشر په هېواد کې د وروستيو بدلونونو پر وړاندې د روسيې موقف نيولو ته په اشارې سره، وويل: «زموږ خلک په

ارمنستان کې د وروستي سیاسي ناورین په بهیر کې د روسیې متوازن موقف نیول په عالي ډول ستایي.»
(سرچینه: د نن ورځې روسیې راپور ۲۰۱۸م د مې ۱۴مه)

یو له هغو دلایلو څخه چې روسیې ته په ارمنستان کې د نفوذ د ساتلو فرصت ورکوي، هغه څه دي چې کولی شو «د ارمنستان غوټه » یې وبولو. دغه ټینګه غوټه ارمنستان ته اجازه نه ورکوي چې روسیې ته شا کړ، ځکه چې ارمنستان په داسې یوه جغرافیه کې پروت دی، چې مسلمانانو احاطه کړی او په دوامدار ډول له دغه اسلامي چاپېریال څخه د وېرې احساس لري، لکه څنګه چې له یوې خوا له آزربایجان سره ګډه پوله لري، هغه ځای چې هلته تل د ناغورني کاراباخ د اقلیم پر سر اخ و ډب دوام لري، له بلې خوا له ترکیې سره ګډه پوله لري؛ هغه ځای چې ارمنیان یې د شلمې پېړۍ پر لویو وژنو باندې تورنوي او وایي چې هغه د دوی کار و او له بل لوري له ایران سره ګډه پوله لري. ارمنستان که څه هم له جغرافیوي پلوه له روسیې سره مستقیمه اړیکه نه لري، خو د جورجیا په واسطه د روسیې له جنوبي لوري څخه سره بېلېږي او د جورجیا د اسلام غوښتونکو د بېلوالي په کړکېچ کې سخت ښکېل دی، لکه څنګه چې په چیچن کې پېښ شول، خو روسیه ارمنستان ته تر ټولو د نژدې نړیوال ځواک په صفت د سیمې د اسلام غوښتونکو د سېلاب پر وړاندې ارمنیانو ته د امنیت احساس ورکولی شي، لګه څنګه چې روسیې د ارمنستان له خپلواکۍ وروسته تل له نظامي اړخه ورسره مرسته کړې، په ځانګړې توګه د اذربایجان پر وړاندې یې د ناغورني کاراباخ په مسله کې او همداراز له ارمنستان سره یې د پورونو په ورکړه، له بدل پرته په مرستو او د سون او ګازو په انرژۍ کې یې ورسره مرسته کړې ده.

نو ځکه ارمنستان کمزورې اقتصاد لرونکی او پر بهرنیو مرستو ولاړ هېواد دی. ارمنستان له اسلامي خطرونو څخه د خپل ځان د ساتلو په موخه د روسیې په ځواک پورې سخت تړلی او باوري دی او همدا دلیل دی چې په ارمنستان کې د روسیې نظامي اډې او د دواړو هېوادونو تر منځ ستراتیژیک ګډون یې د ارمنستان د بهرني سیاست مهم اساس ګڼلی دی. ځینې شعارونه چې په دغو لاریونونو کې په ارمنستان کې د روسیې د نظامي شتون پر وړاندې ورکول کېدل او د روسیې د نظامي اډو د ایستلو غوښتونکي وو، د هغو کسانو لخوا وو چې د باشینیان اصلي څېره یې په ښه توګه نشوی پېژندلی او په احساساتي ډول یې شعار ورکول، ځکه هغوی له روسیې د هغه د تل پاتې نظامي دوستۍ له څرګندونو بې خبره وو.

لنډه دا چې د ارمنستان لاریونونو داخلي رنګ او بوی درلود، چې مخالف لوری واک ترلاسه کړي. مخکنی واک که هر څومره په روسیې پورې تړلی و، خو د لاریونونو لوی ځواک روسیه اړ کړه چې د نژدې او ډېر نژدې تر منځ

نژدې وټاکي او همدا دليل و چې د لاريونونو پر څپه سپره شوه او مخالف لوری يې ومانه او په ورته وخت کې باوري وه چې غرب په ارمنستان کې د روسيې نفوذ په اسانۍ سره نشي له منځه وړلی. په هغو دلايلو چې وړاندې ورته اشاره وشوه، خو له هغې سره سره تمه نه کېږي چې غرب په ځانګړې توګه امريکا د ارمنستان ميدان  يوازې روسيې ته پرېږدي، لکه څنګه چې له نړيوالو استعماري شخړو څخه معلومه ده چې قربانۍ ته د رسېدلو لپاره له خبيثانه او ګڼ شمېر اسلوبو څخه ګټه اخلي.

**۱۴۳۹هـ.ق، د رمضان ۱۰مه**

**۲۰۱۸م، د مۍ ۲٦مه**